محمد هارون خپل شعشعي

۱۷ فبروری ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۴۰

### ۱۰۹- سرهنګان ( د « س » په زْوَر) :

سرهنګان، د سرهنګ د جمعي حالت دئ، چي په عامه مانا، پوځي افسر يا پوځي منصبدار ته وايي .
همدا اوس د ايران په پوځي تشکيلاتو کي دوی عسکري رُتبي شاملي دي، چي يو يې لومړی يا بشپړ سرهنګ او بل يې دوهم سرهنګ نوميږي [۱]؛ خو په تصوفي او عرفاني بحثو کي د « سرهنګ » اصطلاح، د خدای د نيکو او سپېڅلو دوستانو هغه ډله ده، چي شمېر يې درې سوه کسه دئ؛ او د « اخيار » په نامه هم ياديږي [۲].
وټلی او منلی عرفاني صاحب نظر- شيخ عزيزالدين بن محمد نسفي ( ۶۳۰ - ۷۰۰ هـ ق) په خپل مشهور عرفاني اثر« کشف الحقايق » کي د اولياوو د شپږو ډلو يادونه کيي( کوي)، چي هر يوه يې بېل شمېر لري . شيخ نسفي د وليانو د دې شپږو طبقو د نومو په اړه څه نه ليکي؛ خو د ده د څېړني له مخي اوله ډله درې سوه کسه دي[۳].
د هند د ګورګاني پاچا - شاه جهان زوی - محمد داراشکوه ( په ۱۰۲۴هـ ق/ ۱۶۱۵م کي زېږېدلئ او په ۱۰۶۹هـ ق/ ۱۶۵۹م کي په ډيلي کي وژل سوئ) په خپل مشهور عرفاني اثر « سفينة الاولياء » کي د سرهنګانو مقام د خدای تعالی د وليانوپه تشکيلاتي جوړښت يا سلسله مراتبو کي د مکتومانو تر څلور زره کسيزي ډلي مخکي؛ او د رجبيونو تر څلوېښت کسيزي ډلي وروسته راوړی دئ[۴].
زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، د خپل پښتو ديوان په پارسي عنوانو کي د سر هنګانو په نامه، د اولياوو دا ډله ياده کړې ده . زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، د خپل پښتو ديوان په پارسي عنوانوکي د سر هنګانو په نامه، د اولياوو دا ډله ياده کړې ده . مخلص، په يوه ښايسته غزله کي زړه له پاچا، عقل له وزير او

لسګوني حسونه له سرهنګانو سره تشبیه کړي دي . په دي لوړ عارفانه بیان کي د زړه، عقل او لسګونو حواسو تر منځ نه شلېدونکي اړېکی داسي انځور سوي دي :

زړه ګویا خبره وایي په ځو بـــابه
دی دانا شه د مخفي ګنـــج له کتـابه
معلم یي حق، دانا دی د عـالَم که
لکه ویش چي اوده پاځوي له خـوابه
زړه ګویا له دانایي شه بـاور وکړه!
دانایي د زړه حاصله له دي بـابه
پنج بیرون، پینځه درون ګوره لس واړه
باصره، شامه و سامعه البـــابه
ذایقه، لامسه دا پینځه۵ ظـاهر دي
د باطن حس دئ خیال وهم زود یـــابه
حافظه، مفکره، مذکره شـــوه
د باطن د پوهي دا پینځه اربـــابه
هر هر یو له خپل عالَمه خـــــبر راوړي
و وزیر ته یي ظاهر که بي حجـــابه
زړه بادشاه، عقل وزیر، حواس سرهنګ دي
دا وزیر باد شاه خبر که له ځـــــوابه
حق له لسو بابو عِلم پر نـــازل که
ځکه زړه یي دانا کړئ دئ هر بـــابه

**دنورو مالوماتو دپاره وګورئ :** ابدال ، ابرار، اوتاد، قطب، قطب الاقطاب، غوث، غوث الاعظم، غوث زمان یا صاحب الزمان، نقیبان، کامل شیخ، کامل پیر، کامل انسان، نمونه انسان یاکامل التمام ، کامل او ازاد، نبي او ولي، ولي او ولایت، معجزه، کرامت او استدراج .

لمنلیکونه

١ عمید ٢: ١۴٣١- ١۴٣٢.

٢ هجویری ٢۶٩ ؛ رزمجو ٢٣٠ .

٣ نسفی، کشف الحقایق ٨٠ .

۴ محمد دارالشکوه، سفینة الاولیاء ٩ .

۵ د علي محمد مخلص د دیوان په خطي نسخه کي هر ځای « پینځه » د « پینڅه » په بنه کښل سوئ دئ .

پاته لري